# اونیز راستنیدنه عـودت هفته نامه



د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

۱۰۰ مه گنه،۱۴۰۵ وري: لومړی مخ/ شماره ۱۰۰ حمل ۱۴۰۵:صفحه اول


## د کډوالو او راستنېدونکو چاور وزير محترم مولوي عبدالکبير په خپل کاري دفتر کې په پېښور کې له افغان جنرال قونسل حافظ محب الله شاکر سره وکتل

په دې ناسته کې، چې له پاکستان څخه د راستنېدونکو افغانانو پر وضعيت خبرې وشوې، ښاغلي حافظ محب الله شاکر وويل، چې په پاکستان کې د کډوالو ثبت لړۍ کې افغان راستنېدونکي له سختو ستونزو سره مخ دي او زرګونه افغان کورنۍ د ثبت لپاره په تمه دي.

د ښاغلي شاکر پر وينا، چې افغان ډيپلوماتانو څو ځلې په پاکستان کې د افغانانو وضعيت له نږدې څارلی دی او که د پاکستان حکومت د ثبت په لړۍ کې اسانتياوې رامنځته او کاري وخت ډېر کړي، ګڼې ستونزې به يې هوارې شي.

د ناستې پر دوام محب الله شاکر د فرضي کرښې هغې غاړې ته د بند پاتې افغان کورنيو د ستونزو د حل په موخه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ته ځينې وړانديزونه وړاندې کړل.

محترم مولوي عبدالکبير افغان جنرال قونسل ته ښه راغلاست وويل او د کډوالو د ستونزو د حل په برخه کې يې د هغوی هڅې وستايلې.

محترم وزير شوي وړانديزونه مهم وبلل او زياته يې کړه، چې د فرضي کرښې هغې غاړې ته د بند پاتې راستنېدونکو د ستونزو د حل په موخه به لاس په کار شي او د خوراکي او غيري خوراکي توکو د چمتو کولو لپاره به مالي امکانات ولېږي.

محترم وزير د خپلو خبرو پر دوام يادونه وکړه، چې اسلامي امارت د راستنېدونکو لپاره اړين امکانات چمتو کړي او د ستونزو حل ته يې لومړيتوب ورکوي.

د محترم وزير پر وينا، چې د بند پاتې افغان کډوالو ستونزې به له نړۍوالو اداره سره هم شريکې کړي.





## د مهاجرينو وزارت معين په کاري چاپېريال کې له حسد او کينې څخه پر لريوالي ټينګار وکړ

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي او اداري معين محترم شيخ کليم الرحمن فاني په کاري فضا کې له حسد او کينې پر لريوالي، همدردۍ او د همکارۍ روحيې پر پياوړتيا خبرې وکړې.

ښاغلي فاني د ماسپښين تر لمانځه وروسته د وزارت په مسجد کې د دغه وزارت کارکوونکو ته مهم تکي بيان کړل، کينه او حسد يې په کاري چاپېريال کې له منفي لاملونو وبلل او ويې ويل: حسد او کينه په يوه اداره کې باور، يووالی او پرمختګ له منځه وړي او يوه اداره هغه وخت بريا تر لاسه کولای شي، چې د کارکوونکو نيتونه يې پاک، رښتيني او له حسد او کينې پرته خلکو ته خدمت وکړي.

نوموړي د وزارت له کارکوونکو وغوښتل، چې په کاري چاپېريال کې د ورورولۍ روحيه پياوړې، متقابل درناوی او د همکارۍ فضا رامنځته کړي.

## هشت تفاهم نامه همکاری با وزارت امور مهاجرين وعودت کننده گان به امضا رسيد

وزارت امور مهاجرين و عودت کننده گان در جهت ارايه خدمات و فراهم سازی آموزش های حرفوی و زمينه کاری برای برگشت کننده گان و بيجاشده گان درکشور، هشت تفاهم نامه همکاری را با موسسات، اداره باز سازی دهات افغانستان، واسا، هيات ناروی برای مهاجرين، پرورش جامعه پايدار وخلاق، موسسه کانادايی برای اطفال متاثراز جنگ، سازمان خدمات مهاجرين، بشری صلح سازان افغان و سازمان شرکای بين المللی جهانی به ارزش ۲۵ ميليون و ۴۵۹ هزار و ۸۱۲ افغانی ، يک ميليون ۵۲۳ هزار و ۵۹۷ دالر امريکايی، ۸۷۵ هزار و ۹۴۷ دالر امريکايی ، ۹۷۷ هزار و ۴۵۶ دالر امريکايی امضاء نمودند.

پول های ذکر شده در بخش های (آگاهی دهی، نشست ها و ارايه خدمات وانتقال اطفال بدون سرپرست به ۳۵۳۱۲ تن برگشت کننده، بيجاشده وجامعه ميزبان ، کمک نقدی جهت ترميم قسمی، کلی واعمار سرپناه برای ۳۰۹۷ خانواده ، حمايت ازاطفال به ۱۲۰۳۸ تن برگشت کننده بيجاشده ، آموزش های حرفوی و فراهم سازی زمينه کار برای ۲۱۰ خانواده برگشت کننده و ۲۹۴۳ تن بيجاشده، برگشت کننده و جامعه ميزبان در ولايات(هرات، بادغيس، فراه، کابل، ننگرهار، قندهار، کندز، بلخ، بغلان به مصرف خواهد رسيد.

وزارت امور مهاجرين و عودت کننده گان با همکاری موسسات همکار در چهار چوب تفاهم نامه های متواتر و درهماهنگی کامل واحد های دومی به هدف توانمند سازی جوانان برگشت کننده و بيجاشده در کشور از طريق ارتقای مهارت های مسلکی شان زمينه های کاری را فراهم ميسازد.

## وزير امور مهاجرين و عودت کنندگان با والی ولايت دايکندی ديدار کرد

محترم مولوی عبدالکبير، وزير امور مهاجرين و عودت‌کنندگان، با مولوی تورجان، والی ولايت دايکندی در دفتر کارش ديدار کرد.

در اين نشست که پيرامون رسيدگی به امور مهاجرين درآن ولايت گفتگو صورت گرفت، والی دايکندی گفت: تا اکنون نزديک به ده هزار تن از هموطنان عودت‌کننده در آن ولايت ثبت شده که برای برخی از آنان از سوی امارت اسلامی و نهادهای بين‌المللی کمک های لازم صورت گرفته است.

مولوی تورجان همچنان در مورد رسيده گی به مشکلات عودت‌کننده گان در دايکندی، حمايت از مهاجرين نيازمند را پيشنهاد کرده افزود: برخی از کارهای مربوط به شهرک اختصاصی مهاجرين در آن ولايت پيش رفته و اميد است که کارهای باقی‌مانده آن نيز تکميل گردد.

در ادامه نشست، وی برخی از پيشنهادهای مربوط به آمريت امور مهاجرين دايکندی را با مقام محترم وزارت امور مهاجرين شريک ساخت.

محترم مولوی عبدالکبير، والی ولايت دايکندی را خوش‌آمديد گفته و از تلاش‌های مسئولين امارت اسلامی در راستای حل مشکلات عودت‌کننده گان قدردانی نمود.

محترم وزير امور مهاجرين، پيشنهادهای ولايت دايکندی را در بخش امور مهاجرين و عودت‌کنندگان مهم خوانده افزود: اين پيشنهادها مورد بررسی قرار گرفته و برای حل آن‌ها تلاش صورت خواهد گرفت.

همچنان محترم مولوی عبدالکبير يادآور شد که پيشنهادهای آمريت امور مهاجرين دايکندی را در برنامه‌های کاری خود شامل خواهد نمود.

راستنیدنه عــودت
اونیز هفته نامه
۱۰۰ مه گنه ۱۴۰۵ وری:دویم مخ/ شماره ۱۰۰ حمل ۱۴۰۵:صفحه دوم

## د بغلان د مهاجرینو سولې ښارګوټي کې د یوه جومات د جوړېدو چارې پیل شوې

د بغلان په مرکزي بغلان ولسوالۍ کې د مهاجرینو سولې ښارګوټي کې، د یاد ولایت مهاجرینو چارو رییس په شتون کې د یوه جومات د جوړېدو چارې پیل شوې.
د معلوماتو له مخې، دغه جومات د ځايي خلکو په ځانګړې توګه د مرکزي بغلان ولسوالۍ د زمان خېل کلي اوسېدونکو له لوري په یاد ښارګوټي کې د ۱۸ متره په اوږدوالي او ۱۸ متره سور سره د شپږو میاشتو په ترڅ کې جوړېږي.
د دغه جومات له جوړېدو سره به د سولې ښارګوټي اوسېدونکي په مناسب چاپېریال کې عبادت او نور دیني فعالیتونه ترسره کړای شي.



## نزدیک به ۲۰۰ تن زندانی مهاجر پس از آزادی از زندان های پاکستان برگشت نمودند

در جریان دو هفته روان ، ۱٦٦ تن از مهاجرین افغان که در زندان‌های کشور پاکستان به سر می‌بردند رها و پس از آزادی به میهن برگشت نمودند.
به گفته مسئولان درآمریت انتقالات ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت قندهار درسپین بولدک افراد یاد شده به دلیل برخی مشکلات اسناد اقامت بازداشت شده بودند که پس از ثبت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.

## تېر کال په ټول هېواد کې له زرګونو کورنیو سره تر ۳ میلیارده د زیاتو افغانیو په ارزښت مرستې شوې

په تېر ۱۴۰۴ لمریز کال کې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې له ۵۲۲ زره او ۵۴ راستنو شویو، بېځایه شویو کورنیو او کوربه ټولنو سره مرستې شوې دي.
د دغو مرستو مجموعي ارزښت ۳ میلیارده ۳۵۴ میلیونه ۱۴ زره او ۴۰٦ افغانیو ته رسېږي، چې راستنو شویو او بېځایه شویو مستحقو کورنیو ته د نغدي، خوراکي او غیرخوراکي توکو او د هغوی د نورو لومړنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره ځانګړې شوې وې.
دغه مرستې په ټول هېواد کې د هغوی د اقتصادي ستونزو کمولو، ملاتړ او د وضعیت ښه کولو په موخه مصرف شوې.
اسلامي امارت او د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت ژمن دي، چې له کورنیو او نړۍوالو شریکانو سره په همغږۍ، ملاتړې او بشردوستانه برنامې پراخې کړي، تر څو په هېواد کې د مهاجرینو بنسټیزې اړتیاوې په ښه توګه پوره شي.

## رئیس امور مهاجرین ولایت ننگرهاردر همراهی شماری ازمسوولان از اردوگاه( کمپ) عمری تورخم دیدن نمودند

ملا عزیزالرحمن سرحد رئیس امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت ننگرهار در همراهی رییسان معارف، حج و اوقاف، کار و امور اجتماعی، آمرهماهنگی امور ولایات وزارت امور مهاجرین، نماینده گان وزارت کار و امور اجتماعی، پوهنتون و ریاست آموزش‌های مسلکی و تخنیکی آن ولایت به‌گونه مشترک سفری به آمریت انتقالات تورخم نموده و از اردوگاه (کمپ) عمری دیدن بعمل آوردند.
آنان با مسوولین و نمایندگان مؤسسات مستقر در آنجا، نشستی را به‌منظور بررسی و حل همه‌جانبه مشکلات مهاجرین بازگشته برگزار نمودند.
درآن نشست تأکید شد که تمامی مهاجرینی که به کشور بازمی‌گردند، باید علاوه بر آموزش، در بخش‌های صحت، کار، آموزش مسلکی و سایر بخش‌های ضروری، خدمات به‌صورت صادقانه و منظم ارائه شود تا مشکلات آنان به‌گونه اساسی حل شده و روند اسکان مجددشان با موفقیت به پیش رود.
همچنین تصمیم گرفته شد که ادارات و مؤسسات مربوطه با هماهنگی مشترک کار کنند تا مشکلات مهاجرین بازگشته در کوتاه‌ترین زمان حل شده و تسهیلات لازم برای آنان فراهم گردد.
رییس مهاجرین ننگرهار در بازدید از آن آمریت بر روند کیفیت و شفافیت در امور نیز بر مسوولان سفارش های لازم نمود.



## په ننګرهار کې نږدې ۲۰۰ راستنو شویو کورنیو ته د خیاطۍ وسایل ورکړل شول

د ننګرهار په بهسود ولسوالۍ کې له راستنو شویو د ملاتړ په موخه د ورېي پر ۲۴مه ۱۷۰ راستنو شویو کورنیو ته د خیاطۍ وسایل ورکړل شول.
د ۳۴ زره امریکایي ډالرو پر ارزښت دغه مرستې د مهاجرینو چارو وزارت د همکارې موسسې له لوري د دغې ولسوالۍ په اړوندو سیمو کې یادو کورنیو ته ووېشل شوې.
د ننګرهار د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو رییس ملاعزیزالرحمن سرحد د دغو مرستو موخه راستنو شویو ته د عایداتي سرچینو برابرول وبلل او د ورته مرستو د دوام او زیاتوالي غوښتنه یې وکړه.
نوموړي همدارنګه له خیریه بنسټونو او موسسو څخه وغوښتل، چې د کډوالو د ستونزو حل لپاره غوره اقدامات وکړي.



## در ۱۲ ولایت هزاران خانواده ازکمک های بشر دوستانه مستفید شدند

درطی دوهفته ۷۰۸۱ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، متضرر از حوادث طبیعی در ولایات کابل، سرپل ننگرهار لوگر، بلخ، بغلان، فراه، بادغیس ، ارزگان، لغمان ،بدخشان وپکتیکا کمک های نقدی، خوراکی، وسایل خیاطی، بسته های بهداشتی پوشاک وسایل آشپزخانه و خیمه را دریافت نمودند.
بر اساس معلومات واصله، برای ٥٦ خانواده در کابل مبلغ ۸۱۰ هزار و ٦٥۰ افغانی همراه با بسته بهداشتی، برای ۴۱ خانواده در سرپل مبلغ ۳۵۳ هزار و ۲۰۰ افغانی ویک قلم مواد خوراکی، برای ۱۱۷۵ خانواده در ننگرهار مبلغ ۱۳ میلیون و ۸۵۵ هزار افغانی و وسایل خیاطی، برای ۳۸ خانواده در لوگر مبلغ ٦۳۰ هزار و ۸۰۰ افغانی همراه با بسته های بهداشتی و و سایل آشپزخانه، برای ۳۰۰ خانواده در بلخ مبلغ ٦ میلیون و ٦۱۵ هزار افغانی ، برای ۴۰۰ خانواده در بغلان ٦ قلم مواد خوراکی ، برای ۲۹۰ خانواده در فراه مبلغ دومیلیون ۸۵۰ هزار افغانی ، برای ۲۵۷ خانواده دربادغیس مبلغ یک میلیون و ۲۸۵ هزار افغانی برای ۷۰ خانواده در ارزگان یک باب خیمه، برای ۲۳۲ خانواده در لغمان بسته های بهداشتی، برای ۴۷ خانواده در بدخشان مبلغ ٦۸۹ هزار و ۸۰۰ افغانی، برای ۵۴۱۰ خانواده در پکتیکا مبلغ ۳۴ میلیون و ۵۰۰ هزار افغانی، کمک خوراکی و بسته های بهداشتی کمک موسسات همکار این وزارت در هماهنگی واحد های دومی پس از شناسایی آنان توزیع شده است.
خانواده‌های دریافت کننده با استقبال از این مساعدت خواستار ادامه چنین برنامه های حمایتی برای بهبود وضعیت زندگی مردم نیازمند شدند.
امارت اسلامی و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان درهماهنگی با نهادهای همکار تلاش میکند، تا کمک به خانواده های در بیشتری مناطق مختلف کشور برسد.

